

هفته واره رساله

# حضرت بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

اوس تهٔ كامِل شوے يې

د حج د سفر عجيبه انداز

30 كاله نه د مخلص زړهٔ طلب

د ګناه په ورياديدلو خولې راتلل


شيخ طريقت، اميرِ اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# حضرت بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه

دُعائے عطّار: يا الله پاكه! څوک چې دا رساله "حضرت بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه" ولولي يا واوري هغه هميشه د خپلو نيكانو بندګانو سره محبت كوونكے جوړ كړې او د مور او پلار او خاندان سره يې بے حسابه اوبخښې- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضور نبي كريم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ما باندې په كثرت سره درودِ پاک لولئ، بے شكه ستاسو په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامع صغير، ص87، حديث:1406)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اوليائے كرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهِم ذِكرِ خير د رحمت د نازليدو باعث وي او دې سره ايمان ته تازه والے حرارت او زياتوالے نصيب كيږي، د دې سره سره د معلوماتو بے بها خزانه هم په لاس راځي، الغرض د اوليائے كرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهِم د ژوند هر اړخ په ځان كښې د اِصلاح په زرګونو مَدَني ګلونه لري- راځئ چې د الله پاک د يو ولي حضرت سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د ژوند يو څو مختصر واقعات ولولو-

## پيدائشي وَلي

حضرت سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پيدائشي ولي وو، د هغوئي دُنيا ته د تشريف راوړلو نخښې هغه وخت ظاهرې شوې وې چې كله هغوئي د خپلې مور

بي بي پۀ خِیتهٔ وو، د هغوئي مور بي بي فرمائي: کوم وخت چې ” بایزید“ زما پۀ خِیتهٔ وو که پۀ هُغه ورځو کښې به څۀ شکمن څیز (یعني د کوم څیز حلال او حرام چې به معلوم نۀ وو) زما خِیټې ته لاړو نو زۀ به تر هُغه وخته پورې بے ارامه ووم تر څو پورې چې به ما پۀ خپل حلق کښې پۀ ګوته ورکولو اُلټی نۀ وې کړې او هغه به مې راویستے نۀ وو۔ (تذکرۃالاولیاء، 129/1)

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡهِم عاشقانو! حرام خو لویه خبره ده، اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡهِم به د شکمنو څیزونو نه هم ځان ساتلو ، نن سبا حالات دومره نازک دي چې د کوم څیز حرام کیدل یقیني وي د هغې هم هیڅ پروا نۀ کیږي او هغه هم خوړلے کیږي لکه څنګه چې بعضې خلق پۀ سودي کاروبار کولو سره، رشوت اخستلو سره ، پۀ ناپ تول کښې پۀ کمي کولو سره او پۀ کاروبار کښې پۀ دروغو وئیلو سره حرام ګټي او خوري یې۔ هم داسې ډیر خلق پۀ نوکرۍ کښې ډیوټي پوره نۀ کوي خو تنخوا پوره اخلي او هغه بے توله خوري او د هغوئي سره د دې خبرې هډو فِکر نۀ وي ځکه چې د هغوئي ضمیرونه مړه شوي وي۔

## د مور خدمت

حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه د مور بي بي ډیر فرمانبردار وو، د دې پۀ برکت **اللّٰه** پاک هغوئي ته ډیر لوئي مقام عطا کړے وو ځکه بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه د ځان پۀ باره کښې پخپله اِرشاد فرمائي چې ما ته **اللّٰه** پاک دا څومره عظمت او شان راعطا کړے دے د دې وجه دا ده چې ما د خپلې مور ډیر خِدمت کړے دے۔ (تذکرۃالاولیاء، 132/1 ماخوذاً)

حضرت سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپلې مور دومره فرمانبردار وو چې د هغې مثال ډېر کم ميلاؤيږي، په دې باره کښې د بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه واقعه وړاندې کووم-

## اوبه په لاس تېوله شپه ولاړ وو

سَيِّدُنا بايزيد بسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل د ژمي په يوه سخته شپه کښې زما مور ماته د اوبو راوړلو حکم اوکړو، کله چې ما په ګلاس کښې اوبه راوړې نو زما د مور سترګې لګيدلې وې، زه اوبه په لاس د خپلې مور سر ته ولاړ ووم تر دې چې د سختې يخنۍ په وجه اوبه په ګلاس کښې واوره جوړې شوې، کله مې چې مور راويښه شوه نو د مور مينه په جوش کښې راغله او پوښتنه يـې رانه اوکړه چې، زوئيه! آيا تهٔ اوبه په لاس تېوله شپه ولاړ وې؟ ما عرض اوکړو: آؤ جي- تاسو اوبه غوښتې وې او کله چې ما اوبه راوړې نو تاسو اوده شوې وئ او ادب د دې خبرې اجازت نهٔ راکولو چې تاسو راويښه کړم، او هسې نهٔ چې کله د خوب نه رابيداره شئ او د اوبو نهٔ موجود کيدو په وجه د تندې په تکليف کښې پريوځئ، ځکه اوبه په لاس ولاړ ووم. (تذکرةالاولياء، 132/1ماخوذاً)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! يقين وکړئ چې د مور او پلار په جذبه مست د سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې واقعاتو کښې زمونږ د پاره سبق دے- يو طرف ته خو سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو چې هغوئي د خپلې مور دومره خيال وساتو چې اوچتې مرتبې ته ورسيدو خو بل طرف ته زمونږ په شان بے کاره خلق دي د چا ظاهر چې د بزرګۍ اعلان کوي او په ظاهره ډېر نيک سيرته او عاشقِ رسول په نظر راځي خو حالت يې دا وي چې که مور خواره څهٔ خبره وکړي نو وړومبے خو يـې اوري نهٔ او که اوري يـې نو يو دَم يـې رټي يا ستغې

سپورې ورته وائي او جواب ورکوي، که د مور پۀ څۀ خبره باندې پوهه نۀ شي نو يو دم يـې رتي او داسې قِسمه جُملې ورته وائي: " زما سره وخت نشته، زۀ اودۀ کيږم، څۀ دِماغ مې خورې وغيره وغيره-" غور وکړئ چې زمونږ د خپلې مور سره د خبرو انداز داسې وي نو بيا به زمونږ زړۀ پۀ عبادت کښې څنګه لګي؟ پۀ عبادت کښې به عاجزي او انکساري څنګه پيدا کيږي افسوس چې مونږ پۀ ورځ کښې پته نۀ لګي چې څومره کرته مور او پلار رټو! که څوک مور پۀ دې وجه باندې رټي چې هغه نـمونځ نۀ کوي نو د دې هم اجازت نشته ځکه چې دا د هغې او د هغې د رَبّ ترمينځه معامله ده- زمونږ د پاره حکم دا دے چې مور او پلار چې پۀ شريعت کښې دننه څۀ حکم هم وکړي مونږ د هغوئي تابعداري وکړو البته که مور او پلار د شريعت د خلاف ورزئ کولو وائي نو پۀ داسې حالت کښې به د هغوئي تابعداري نۀ کيږي، يقيناً چې خوش قِسمته دي هغه خلق د کومو نه چې مور او پلار راضي د دُنيا نه رخصت شي-

## خوش قِسمته خلق

اميرِ اهلِسُنَّت، مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ارشاد فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مور او پلار د فرمانبردارئ پۀ باره کښې زما زړۀ ډير زيات مطمئين دے او هغه داسې چې ما هډو مور او پلار ليدلي هم نۀ دي! لا زما عمر يو نيم يا دوه کاله وو چې والد صاحب مې وفات شو نو داسې ما ته د والد صاحب سره د خبرو موقع هم ميلاؤ نۀ شوه د هغوئي ناراضه کول خو غټه خبره ده- زما مور ژوندئ وه اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه د دُنيا نه پۀ داسې حال کښې رخصت شوه چې هغه زما نه خوشحاله وه- هيڅ شک نشته چې نن چې د ډيرو خلقو توجه زما طرف ته ده نو دا هر څۀ زما د مور زما نه د خوشحاليدو پۀ برکت سره دي-

زما مور د زيارت پۀ ورځ وفات شوې وه خو هغې ته درې ورځې مخکښې د اتوار پۀ ورځ د زړۀ دوره شوې وه، پۀ کومې چې کور والا نۀ وو پوهه شوي خو شک شوے يــې وو چې د زړۀ دوره ورته شوې ده نو ما کور والا راجمع کړل او اجتماعي توبه مو کړه او داسې اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! زما مور هم توبه وکړه او کلمه مبارکه يــې ووئيله- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! زما د مور سره د ايمان دومره احساس وو چې که د چا د خُلې نه به څۀ غلطه جمله ووتله نو ټول کور والؤ ته به يــې وئيل چې توبه وکړئ او کلمه ولولئ تر دې پورې چې کله نا کله به يــې زما نه هم پوښتنه کوله چې زما د خُلې نه فلانکې جمله وتلې ده، چرته ڪُفر خو نۀ دے؟

پۀ اخرۍ ورځ د زيارت ورځ د صفر شريف اوؤلسمه شپه وه او زۀ پۀ يوه اجتماع کښې شريک ووم، پۀ دې کښې ما ته د کور نه جواب وشو چې زر راشه، کله چې زۀ کور ته راورسيدم نو زما د مور ژبه بنده شوې وه او هغه د ځنکدن پۀ حالت کښې وه، بيا مونږ د سورۀ يٰس شريف تلاوت وکړو نو دغه شان تقريباً 10:15 بجې د هغې روح پۀ اسانۍ سره قبض شو- وروستو ما ته زما مشرې خور ووئيل چې د مور ژبه پۀ کلمه مبارکه وئيلو او اِستغفار کولو بنده شوې وه، هغې تۀ ډير يادولې او بيا بيا يــې وئيل چې زما ځوي زر راوغواړئ چرته هغه زما نه لرې پاتې نۀ شي، د وفات کيدو پۀ ورځ د سخوتن نه مخکښې ما د خپلې مور سره ډوډۍ وخوړله او کله چې د نــمونځ د پاره تلم نو زما مور ما ته ووئيل: رانزدې شه، زۀ ستا لاسونه ښکلووم، ما عرض وکړو: تاسو به زما نۀ بلکې زۀ به ستاسو لاسونه ښکلووم، بهر حال زما مور پۀ داسې حال کښې د دُنيا نه رخصت شوه چې زما نه ډيره خوشحاله وه-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د بشريت تقاضا ده چې بعضې وخت د انسان نه د مور او پلار نافرماني کيږي ځکه د شَبِ براءَت، رمضان شريف پۀ راتلو او پۀ

نورو لویو ورو ورځو کښې وخت پهٔ وخت ښېې نیسئ ، لاسونه جوړه کوئ او د مور او پلار بلکې که کیدے شي نو د ټول کور والؤ نه معافي غوښتل پکار دي- خومره چې درنه کیدے شي نو مور او پلار خوشحاله ساتئ، که مور او پلار درنه پیسې غواړي نو ډیرې ورکوئ مثلاً که یوه وغواړي نو پینځهٔ او که 10 وغواړي نو 50 ورکوئ او دغه شان د مور او پلار خدمت کوئ او د هغوئي نه دعاګانې اخلئ اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيم! پهٔ دواړو جهانو کښې به مو بیړۍ پار شي- بس د دې خبرې خیال ساتئ چې که مور او پلار د شریعت خلاف څهٔ حکم وکړي نو هغه مهٔ منئ مثلاً مور او پلار د ګیرې خریلو ووائي نو مهٔ یې خریوئ که خریوئ یې نو ګنهګاران به شئ- یاد ساتئ چې پهٔ کومه معامله کښې د **الله** پاک او د هغهٔ د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم موجود وي د هغې خلاف که هغه مور او پلار وي او که بل څوک، د چا تابعداري هم جائز نهٔ ده-

## پهٔ یو وخت کښې د دوو هستیانو حق ادا کیدے نشي

سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د خپلې مور ښهٔ ډیر خدمت کولو او د هغې نه به یې دعاګانې غوښتې، یو ځل بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مَکتَب (یعنې پهٔ مدرسه) کښې د سورهٔ لقمان تلاوت کولو، کله چې دې آیت مبارک ته ورسیدو ﴿ اَنِ اشۡكُرۡ لِيۡ وَ لِوَالِدَيۡكَ ﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ”چې زما او د خپل مور او پلار شُکر ادا کړئ-“ (پ21، سورۂ لقمن: 14) نو د خپلې مور خوا ته حاضر شو او عرض یې وکړو: زما نه پهٔ یو وخت د دوو هستیانو (یعنې ستاسو او د **الله** پاک) حق نشي ادا کیدے لهذا یا خو تاسو ما د **الله** پاک نه وغواړئ چې زهٔ ستاسو خدمت کووم یا خپل ټول حقونه راته معاف کړئ او ما **الله** پاک ته وسپارئ چې زهٔ د هغهٔ شُکر ادا کړم- د

هغوئي مور بي بي ډېره بزرګه او نیکه زنانه وه نو هغې ووئیل: ځویه! زۀ د خپلو ټولو حقونو نه لاس اخلم او تا **الله** پاک ته سپارم- د دې نه پس سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه شام ته تشریف یوړلو او هلته د **الله** پاک پۀ عبادت کښې مشغول شو- هغوئي تر دریو کالو پورې پۀ صحراګانو کښې مجاهدات کول او پۀ دغه موده کښې پرې د **الله** پاک د یاد دومره غلبه وه چې ډوډۍ به یې هم نۀ خوړله- یاد ساتئ چې داسې خلقو ته رُوحاني خوراک عطا کیږي یعني **الله** پاک غیبي داسې طاقت ورعطا کړي چې د خوراک څښاک حاجت ورته نۀ وي-

## اوس تۀ کامِل شوے یې

سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه د ډېرو اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡهِم زیارتونه وکړل او د هغوئي پۀ صحبت کښې پاتې شو او ښۀ ډېر فیض یې ترینه حاصل کړو- پۀ هُغه هستیانو کښې یوه هستي حضرت سَیِّدُنا اِمام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه هم دے- سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه د یوې مودې پورې د سَیِّدُنا امام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه پۀ خدمت کښې وو- یو ځل سَیِّدُنا اِمام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه وفرمائیل: اے بایزیده! پۀ فلانکي تاخ کښې چې کوم کتاب پروت دے هغه راوړه- عرض یې وکړو: حضور! هُغه تاخ پۀ کوم ځائے کښې دے؟ سَیِّدُنا امام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه ارشاد وفرمائیلو: تۀ د دومره مودې نه زما سره یې خو اوسه پورې تا ته دا معلومه نۀ شوه چې تاخ چرته دے؟ عرض یې وکړو: حضور! تاخ خو لویه خبره ده ما خو ستاسو پۀ صحبت کښې چرته سر هم نۀ دے اوچت کړے، پۀ دې اوریدو سَیِّدُنا اِمام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه ډېر خوشحاله شو او ارشاد یې وفرمائیلو: اوس تۀ کامِل شوے یې، بِسطام ته واپس لاړ شه- (تذکرة الاولیاء، 130/1 ملتقطاً)

اے د اولیائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم عاشقانو! کله چې بنده د خپلو استاذانو یا مشائخو صحبت حاصل کړي نو اخوا دیخوا د ګرځیدو، د چا د چیړلو او د چا په باره کښې د پوښتنو کولو په ځائے ټيټ سر په ادب سره کښینئ او خپل ځان خالي لوښے ګڼړئ ځکه چې کوم لوښے خالي وي هغه د څۀ خيز نه راډکیدے شي او کوم چې د مخکښې نه ډک وي په هغې کښې نور څۀ نشي راځائے کیږي - بعضې وخت خلق د علمائے کرامو یا مشائخ عظامو خوا له ځي نو د هغوئي نه قِسما قِسم پوښتنې کوي او د هغوئي امتحان اخستل شروع کړي خو هغوئي ته دا معلومه نۀ وي چې د هغوئي خپل امتحان اخستے کیږي- یاد ساتئ چې که عقیدت کامِل وي نو فیض ضرور میلاؤیږي او څنګه میلاؤیږي؟ د دې اندازه د دې حکایت نه ولګوئ،

## معذوره ماشوم ګرځیدل شروع کړل

د ډاکوانو یوه ډله د لوټ مار د پاره ووتله، دوئي په یوه مسافر خانه کښې ایسار شول او هلته یې دا ظاهره کړه چې مونږ د **الله** پاک د لارې مسافر یو- د مسافر خانې مالِک نیک انسان وو هغۀ د **الله** پاک د رضا په نیت د هغوئي ښۀ ډیر خدمت وکړو، سحر هٰغه ډاکوان یو طرف ته روان شو او لوټ مار یې اوکړو او ماښام واپس راغلل- تیره شپه چې یې په مسافر خانه کښې کوم ماشوم هلک د ګرځیدو نه معذوره لیدلے وو نو هغه بغیر د څۀ تکلیف نه ګرځیدو! هغوئي په حیرانتیا سره د مسافر خانې والا نه پوښتنه وکړه: آیا دا هٰغه پرونے معذوره ماشوم نۀ دے؟ هغه ډیر په احترام جواب ورکړو: آؤ جي، دا هم هغه دے- پوښتنه یې وکړه: دا څنګه ښۀ شو؟ جواب یې ورکړو: دا ستاسو په شان د **الله** پاک په لار کښې د مسافرو په برکت سره وشو، خبره دا ده چې تاسو چې څۀ خوړلي وو، د هغې نه چې

څۀ پاتې شوي وو، مونږه ستاسو جوتې د شِفا پۀ نیت دې ماشوم له ورکړې وه او پۀ جوتې شوو اوبو مو د دۀ وجود مالش کړو، **اللّٰه** پاک ستاسو پۀ شان د نیکانو بندګانو د جوتې خوړلو او د اوبو پۀ برکت زمونږ معذوره ماشوم ته شِفا عطا کړه- کله چې ډاکوانو دا خبره واوریدله نو د هغوئي د سترګو نه اوښکې روانې شوې، هغوئي پۀ ژړا ژړا ووئیل: دا هر څۀ ستاسو د ښۀ ګمان نتیجه ده ګنې نو مونږ خو سخت ګنهګاران خلق یو، واورئ! مونږ د **اللّٰه** پاک د لارې مسافر نۀ یو بلکې ډاکوان یو، د **اللّٰه** پاک دې کرم زمونږ د زړونو دُنیا بدله کړه، مونږه تاسو ګواهان جوړوو او توبه کوو نو هُغه خلقو توبه کړه او د نیکۍ لاره یې اختیار کړه او تر مرګه پورې پۀ توبه باندې ثابت قدم پاتې شو- (قلیوبی، ص20 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو وکتل چې د ډاکوانو پۀ جوتې معذوره ماشوم تیک شو، دا د مسافر خانې د مالک د رښتونې عقیدت نتیجه وه چې هغه ډاکوان د **اللّٰه** پاک د لارې مسافر وګڼل او د هغوئي خدمت یې وکړو ګنې نو پۀ حقیقت کښې هغوئي ډاکوان وو- یاد ساتئ چې خبره ټوله د عقیدت ده، که مونږ یو څیز ته د عقیدت پۀ نظر وګورو نو مونږ ته به څۀ بل څۀ پۀ نظر راشي او که هُغه څیز ته د تنقید پۀ نظر وګورو نو څۀ بل څۀ به راته پۀ نظر راشي- که مونږ د یو ګس خوا ته د محبت او عقیدت سره حاضر شو نو مونږ له به د هغۀ د خُلې نه هم خوشبوئي راځي او که د تنقید پۀ نظر لاړ شو نو د هغۀ خوشبوئي به راباندې هم بد بوئي لګي-

## د قبلې طرف ته د لاړو توکلو والا حکایت

سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ به د ادب ډیر زیات خیال ساتو تر دې پورې چې که څوک به یې د ادب خلاف پۀ څۀ کار لیدلو نو د هغۀ د صحبت اختیارولو

نه به یې ځان بچ ساتلو نو یو ځل سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د یو بزرګ پهٔ خدمت کښې حاضر شو د چاچې هغوئي ډیر صفت اوریدلے وو، پهٔ اتفاقي توګه هُغه بزرګ د قبلې طرف ته مخ کړو او لاړې یې وتوکلې نو بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هُغه ځائے نه واپس تشریف راوړلو او ارشاد یې وفرمائیلو: دا ګس د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ آدابو کښې پهٔ یو ادب باندې خو اَمین دے نهٔ نو بیا چې د کوم څیز (یعني ولایت) دعویٰ کوي پهٔ هغې باندې به څنګه امین وي؟ (رسالة قشيرية، ص38 ملتقطاً)

## پهٔ لاره کښې به یې لاړې نهٔ توکلې

د سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ادب دا حال وو چې کله به د نـمونځ د پاره جومات ته تللو نو دې د پاره به یې پهٔ لاره لاړې نهٔ توکلې چې زهٔ اوس د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې د پیش کیدو د پاره ځم- (تذکرة الاولیاء، 130/1 ملتقطاً)

غور وکړئ چې زمونږ حالت دا دے چې مونږ بغیر د سوچ نه چې چرته غواړو نو لاړې توکو تر دې پورې چې بعضې خلق د مکے مکرمې او د مدینے منورې پهٔ کوڅو کښې هم لاړې توکي او پوزه صفا کوي حالانکې دا هُغه مبارکې کوڅې دي کومو ته چې د **الله** پاک د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو ښپو د ښکلولو سعادت حاصل دے- آؤ پهٔ کومو کارونو کښې چې انسان مجبور وي نو هغه بیله خبره ده مثلاً طَبعي حاجت پشان معاملاتو کښې انسان بے وسه دے خو پهٔ کوڅو او سړکونو باندې د توکلو پهٔ معامله کښې خو بے وسه نهٔ دے- یاد ساتئ چې پهٔ کوڅو او سړکونو کښې لاړې توکل هسې هم د ادب خلاف دي او د مکے مکرمې او مدینے منورې پهٔ شان پهٔ مقدسو ښارونو کښې خو د ډیر زیات احتیاط ضرورت دے- الغرض مونږ چې څومره هم ادب کوو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! هُغه همره فائده به مو نصیب کیږي-

"باادب بانصيب، بے ادب بے نصيب"

بهر حال بنده چې تر څو پورې په شريعت باندې عمل نۀ کوي نو تر هغه وخته پورې په طريقت کښې څۀ مقام نشي حاصلولے- په دې دور کښې بعضې خلق نمونځونه قضا کوي او ګيره خريوي يا د يو موټې نه يې کمه ساتي خو د دې باوجود ځان ته د طريقت صاحب وائي او د طريقت ډيرې اوچتې دعوې کوي- د عامو خلقو د دِين نه د لرې والي په وجه نن سبا ډيرو خلقو د طريقت په نوم خپل خپل دکانونه پرانستي دي-

## د حج د سفر عجيبه انداز

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! کله چې مونږ د حج کولو د پاره ځو نو په خپل کور باندې د حج مبارک بورډ لګوو او ډير په شان او شوکت سره احرام تړو او په ائير پورټ باندې تصويرونه اوباسو خو د سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د حج د سفر انداز ډير عجيبه وو، بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به چې په سفر کښې يو څو قدمه وړاندې لاړو نو دوه رکعته نمونځ به يې وکړو او ارشاد به يې وفرمائيلو: زۀ د ډير لوئې بادشاه د دربار طرف ته روان يم ځکه ما ته هم په دې انداز باندې تلل پکار دي- په دې عجيبه انداز کښې د حج په سفر کولو بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مکے مکرمې ته په 12 کاله کښې ورسيدو- (تذکرة الاولياء، 130/1 ملتقطاً)

## سامان په اوښ باندې دے که په بل يو څيز باندې؟

(د حج کولو نه پس) په دويم کال حضرت بايزيد رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د مدينے منورې اراده وکړه، کله چې هغوئې د مدينے منورې د حاضرۍ د پاره روان شو نو په سوونو خلق د هغوئې سره روان شو، سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به تنهائي خوښوله

او د ځان خوا کښې به یـې د خلقو ګڼه نۀ خوښوله (ځکه چې عام طور خلق تعریفونه کوي او هیڅې بے هیڅه د انسان شان اوچتوي او هغه چې کوم عبادت کول غواړي نو هغې ته یـې نۀ پریږدي) ځکه د داسې خلقو نه د نجات حاصلولو د پاره سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه دا چل وکړو چې پۀ یو اوښ باندې یـې ډیر سامان کیښودو خلق ډیر حیران شو او هغوئي پۀ حیرانتیا سره ووئیل: تاسو دومره ډیر بوج پۀ یو چارپایه ځناور باندې کیښودو! بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه ارشاد وفرمائیلو: لږ پۀ غور وګورئ چې سامان پۀ اوښ باندې دے که پۀ بل یو څیز باندې؟ کله چې خلقو پۀ غور وکتل نو معلومه شوه چې سامان پۀ اوښ باندې نۀ وو بلکې پۀ هوا کښې زوړند وو- پۀ دې منظر لیدو خلق ډیر حیران شول، سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه وفرمائیل: ما چې ستاسو نه ځان پټ کړو نو تاسو زما پۀ باره کښې دا بدګماني وکړه چې ما پۀ یو چارپایه ځناور ډیر زیات بوج کیښودو او اوس چې درته حقیقت ښایم نو پۀ تاسو کښې د هغې د برداشت کولو حوصله نشته، پۀ دې وئیلو سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه د هٔغه ټولو نه نجات حاصل کړو- (تذکرۃ الاولیاء، 131/1 ملتقطاً)

## 30 کالو نه د مخلص زړۀ طلب

یو ځل یو ګَس د حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه پۀ خِدمت کښې حاضر شو او عرض یـې وکړو: حضورا! د زړۀ د اِخلاصه ما ته داسې نظر وکړئ چې زما کار اوشي- بایزید بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه ارشاد وفرمائیلو: زۀ د 30 کالو نه د **اللّٰه** پاک نه مخلص زړۀ غواړم او د هغۀ پۀ بارګاه کښې عرض کووم چې اے **اللّٰه**! ما ته د زړۀ خلوص راعطا کړې خو اوسه پورې زۀ د زړۀ پۀ اخلاص موندلو کښې

کامیاب نۀ شوم- چې زما خپل زړۀ د اخلاص نه خالي دے نو ستا زړۀ ته د اخلاص نظر د چرته نه راوړم؟ (تذکرۃالاولیاء، 146/1 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل چې پخوانو خلقو به د بزرګانو سره خومره عقیدت لرلو چې که هغوئي پۀ اخلاص سره یو نظر وکړي نو د هغوئي کار به اوشي، د هُغه بزرګانو عاجزي او انکساري به خومره وه چې کله هُغه ګَس د حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه نه پۀ اخلاص سره د نظر کولو غوښتنه وکړه نو بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه خپل مخلص کیدل هډو اونۀ منل او د هغې نه یې اِنکار وکړو-

## د اللّٰه پاک د ویرې غلبه

یو ځل پۀ حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه باندې د اللّٰه پاک د ویرې د غلبې د وجهې ړچ ولګیدو، پۀ دې باندې د هغوئي یو مُرید ډیر حیران شو او هغه عرض وکړو: د اللّٰه پاک نه خو مونږ هم ویریږو خو پۀ تاسو باندې دا حالت څنګه راغلو؟ اِرشاد یې وفرمائیلو: ما ته چې د 30 کالو پۀ محنت او د نفس پۀ ریاضت کوم مقام حاصل شو پۀ هغې تا زۀ پۀ لږ ساعت کښې څنګه پوهه کولے شم؟

(تذکرۃالاولیاء، 146/1ملتقطاً)

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡهِم عاشقانو! تاسو وکتل چې حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه تر 30 کالو پورې د نفس ریاضت اوکړو او بیا د هغوئي دا مقام نصیب شو خو مونږ دا غواړو چې مونږ ته بس یو دم هم هر څۀ حاصل شي او یو دم هم هر څۀ زده کړو، بعضې وخت د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره د تعلق لرونکو دا خواهش وي چې هغوئي زر تر زره مبلغ جوړ شي- وګورئ چې که چرې ماشوم اوس خبرې زده کړي او ووائي چې زما لاس ته د میټرک سند

راشي نو داسې ممکن نۀ ده بلکې د هغې د پاره به هغه ته تر لسو کالو پورې محنت کول وي بيا به ورته چرته د میټرک سند میلاؤیږي۔

## د اِسلامي فوځ مدد

حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د ولایت اعلیٰ درجې ته رسیدلے د کراماتو بزرګ صاحب وو، یو ځل پۀ روم کښې د مسلمانانو د کافرانو سره جنګ شو نو اِسلامي فوځ پشا کیدو، د مسلمانانو پۀ فوځ کښې شریک یو فوځي د حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ډیر لوئي مُعتَقِد وو، بے اختیاره د هغۀ د خُلې نه ووتل: یا شیخ بایزیده! اِمداد وکړئ [1] هُغه وخت خطرناک وور راغلو، د کافرانو لښکر وتښیدو او د مسلمانانو فتح نصیب شوه۔ (تذکرۃالاولیاء، 146/1 ملتقطاً)

## پۀ مِیتیازو کښې وینه

اے د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم عاشقانو! چرته چې د حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ مرتبه ډیره اعلیٰ ده هلته د هغوئي پښیمانتیا او ژړیدنه هم ډیره د متاثره کوونکې ده، حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ یوه شپه د خپل کور چت ته تشریف یوړلو او دیوال یې اونیوو او ټوله شپه خاموش ولاړ وو د هغې له وجهې د هغوئي په مِتیازو کښې وینه شروع شوه۔ خلقو چې ترینه د سبب پوښتنه وکړه نو اِرشاد یې وفرمائیلو چې د دې دوه وجهې دي، وړومبۍ دا چې نن

---

[1] ... که چرې شیطان دا وسوسه زړۀ ته در واچوي چې اولیائے کرام د **اللّٰه** پاک په عطا سره هم مدد نۀ شي کولے نو بیا سَیِّدُنا بایزید بسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته پۀ اواز کولو هغوئي څنګه مدد کولے شي؟ نو د داسې قِسمه وسوسو ختمولو د پاره د امیرِ اهلِ سنت مولانا محمد الیاس عطّاري قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 20 صفحو رساله ''جنّات کا بادشاہ'' ولولئ۔ (شعبه بیاناتِ امیرِ اهلِ سنت)

زۀ د **اللّٰه** پاک د عبادت نه محرومه پاتې شوم ځکه چې ما د شپې عبادت اونکړے شو- دويم دا چې پۀ ماشومتوب کښې زما نه يوه ګناه شوې وه نو زۀ پۀ دغه دوو څيزونو دومره ويريدم چې زما د زړۀ نه وينې شو او د مِتيازو پۀ لاره وينه راوتلله- (تذکرة الاولياء، 133/1 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ ټوله شپه غافله اوده يو خو د **اللّٰه** پاک نيکانو بندګانو به خپلې شپې هم پۀ عبادت کښې تيرولې- حضرت سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه دويمه وجه دا بيان کړه چې پۀ ماشومتوب کښې زما نه يوه ګناه شوې وه- ياد ساتئ چې د نابالغه ګناه نۀ شميرلے کيږي خو د دې باوجود حضرت سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه دومره ويريدو چې پۀ مِتيازو کښې ترينه وينه شروع شوه! مونږه بالغه، هوښيار او د دې څيز د شعور لرلو باوجود چې فلانکے کار ګناه او د **اللّٰه** پاک نافرماني ده، ښۀ ډاډه او ښکاره يې کوو او د چا هډو مجال نشته چې مونږ منع کړي- مونږ د سحر د نـمونځ پۀ وخت اوده پراتۀ يو او مونږ سره د دې خبرې هډو احساس نۀ وي چې د کور او محلې خلقو ته به زمونږ د نـمونځ نۀ کولو پته ولګي- ظاهره ده چې د **اللّٰه** پاک نه نۀ ويريږو نو د بل چا نه به څۀ ويريږو؟ د **اللّٰه** پاک د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له رانه حيا نۀ راځي نو د بل چا نه به راله څۀ راشي؟ زمونږ حالت دومره خراب شوے دے چې ښکاره ګناه کوو، پۀ ډاګه کنځل کوو، ښۀ دروغ ووايو، وعده اوکړو او قصداً يې ماتوو او بے دريغه ګيره خريوو حالانکې ګيره خريول حرام دي، پۀ حديثِ پاک کښې دي: بريتونه واړه کړئ او ګيرې پريږدئ، د يهوديانو پۀ شان شکل مۀ جوړوئ- (مسلم، ص125، حديث603602 ماخوذاً)

افسوس چې مونږ د دې خبرې نه نۀ ويريږو او نۀ راله شرم راځي چې مونږه ګيره خريوو او د **اللّٰه** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانو پۀ شان مخ

سره ګرځو، زمونږ سره د دې خبرې هم څۀ احساس نشته چې ښۀ پۀ خوند باندې سود او د رشوت مال خورو، ښکاره د ملاؤټ والا کار کوو او پۀ کاروبار کښې ښه دوکه کوو! یو طرف ته خو زمونږه دا حالت دے او بل طرف ته د **الله** پاک ولي حضرت سَیِّدُنا بایزید بِسطامي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته وګورئ چې پۀ ماشومتوب کښې شوې یوه ګناه یادوي او دومره ویرېږي چې د مِتیازو پۀ لاره ترینه وینه ځي حالانکې د نا بالغتوب پۀ حالت کښې پۀ شوې ګناه راګیریدل نۀ وي۔

## د ګناه پۀ وریادیدلو خولې خولې شو

زمونږه بزرګانِ دِین رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم ته چې به کله خپل تیر ګناهونه وریادیدل نو هغوئي به د ویرې نه ژړل حضرت سَیِّدُنا عُتبۃُ الغلام رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه کوم چې ډیر لوئي وَلِيُّ الله تیر شوے دے، یو ځل پۀ یو ځائے تیریدو نو د یو کور پۀ خوا کښې ودریدو، د ویرې پۀ وجه عُتبۃُ الغلام رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خولې خولې وو۔ کله چې ترینه خلقو پوښتنه وکړه چې حضور! دلته ستاسو دا حالت ولې شو؟ اوئې فرمائیل: پۀ یو وخت کښې زما نه پۀ دې کور کښې ګناه شوې وه لهذا چې کله هم زۀ پۀ دې ځائے باندې تیرېږم نو هٰغه ګناه راته ډیره رایادېږي او زۀ ډیر شرمیږم پۀ دې وجه دلته زما دا حالت شو۔ (حلیة الاولیاء، 246/6، حدیث:8471 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! غور وکړئ چې پته نۀ لګي مونږ پۀ یوه ورځ کښې بلکې پۀ یوه ګینټه کښې بلکې پۀ یو منټ کښې څومره ګناهونه کوو خو زمونږ سره د دې احساس نۀ وي ځکه چې زمونږ ضمیر بالکل مړ شوے دے۔ یاد ساتئ چې مونږ ته د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې پیش کیدل دي، که مونږ هر څومره د شان او شوکت والا ولې نۀ یو، که مونږ د هر قِسمه ډیر طاقت مالکان ولې نۀ یو، که مونږ هر څومره لوئي مالداره او سرمایه دار ولې نۀ یو، که مونږ هر څومره د

لوئي عهدې او څومره لوئي افسران ولې نۀ يو، مونږ ته به د **الله** پاک دې اِرشاد ته نظر کول وي:

**اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾**

(پ18، سورۂ المؤمنون:115)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** نو آيا تاسو دا ګڼئ چې مونږه تاسو بے کاره جوړ کړي يئ او تاسو به زمونږ طرف ته نۀ راګرځولے کيږئ؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا خبره يقيني ده چې ټولو ته د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې پيش کيدل دي، څوک چې د دې نه اِنکار کوي هغه به مسلمان نۀ پاتې کيږي- پته نۀ لګي چې د ګناه کولو پۀ وخت زمونږ نه دا ولې هيريږي چې مونږ ته د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې پيش کيدل دي- پۀ دُنيا کښې چې کله مونږ د يو بزرګ د ملاقات د پاره ځو نو پۀ سر باندې رومال يا ټوپۍ وغيره ږدو، دغه شان که د سګريټ څښلو پۀ وخت که يو بزرګ پۀ راتلو مخامخ ووينو نو فوراً سګريټ پټ کړو يا يې ښکته وغورځوو او زر پرې ښپه راښکو، وګورئ چې د يو بزرګ پۀ مخکښې دومره شرم او حيا کوو نو د **الله** پاک نه شرم او حيا ولې نۀ کوو کوم چې "عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَة" دے يعني يو څيز هم د هغۀ نه پټ نۀ دے او هغه مونږ د هر قِسمه ظاهري او باطِني هر قِسمه بے حيايۍ نه منع کړي يو-

اے کاش چې زمونږه ضمير بيدار شي او زمونږ دا ذِهن جوړ شي چې **الله** پاک مو ويني- کله چې زمونږ داسې سوچ جوړ شي چې **الله** پاک مو ويني نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پۀ مونږ کښې به ضرور د ګناهونو احساس پيدا شي، کله چې راسره د ګناهونو احساس پيدا شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د ګناهونونه د بچ کيدو صورت به هم

جوړ شي او كله چې د ګناهونو نه د بچ كيدو صورت راووځي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زمونږ به ظاهري او باطِني دواړه قِسمه ترقياني نصيب شي۔


**الله** پاک دې د حضرت سَيِّدُنا بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بركتونو باندې مونږ مالا مال كړي۔ **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دا رساله د لوستلو نه پس د ثواب په نيت باندې چا له وركړئ

د غم ښادۍ په دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د ميلاد په جلوسونو وغيره كښې د مكتبة المدينه چاپ كړے شوې رسالې او د مَدَني ګولونو پمفلټس تقسيم كړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب په نيت په تحفه كښې د وركولو د پاره په خپلو دكانونو كښې د رسالو كيښودو معمول جوړ كړئ، د اخبار خرخوونكو په ذريعه د خپلې محلې كور كور ته د مياشتې كم از كم يوه د سُنَّتو نه ډكه رساله يا د مَدَني ګلونو پمفلټ وركړئ او د نيكۍ دعوت عام كړئ او ښه ډير ثواب وګټئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net